# خدای ته لیك

## (نړیوالې افسانې)

## ژباړه او ټولونه : ارش ننګیال

ډالۍ :

تاته ! چې له ټولو لرې او له ټولو را نژدې یې..

{{هغه کتابونه چې سمسور وویپانې پرلیکه کړې او یا یې پر لیکه کوي، نور څوک یې}}

پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

یادونه

دا حکایتونه، نکلونه او لنډې کیسې ما د (مسعود لعلي) د اروا پوهنې له دولسو کتابونو د( شما عظیم تر از انی هستید که می اندیشید ) له لړۍ څخه او د دلکارنګي له دوو کتابونو نه ژباړلي او راټولې کړې دي.

وايي: ځینې کیسې انسان ته خوب راولي خو ځینې انسان بیداره کوي او وېښوي یې. دا هغه کیسې دي چې دغو سترو اروا پوهانو ترې په خپلو علمي کتابونو کې د موضوع د ښه اخذ او جذب لپاره ګټه اخیستې ده.

دا هغه کیسې دي چې انسان بیداره کوي، له خوبه یې راوېښوي او د مخکې تللو لپاره همت او حوصله ورکوي.

دا نکلونه د بېلا بېلو هېوادونو او ملتونو دي، شاید د نوم په متفاوت سره په نورو کتابونو کې هم راغلې وي. ځینې هغه کیسې چې خبر شوی یم نورو ملګرو هم ژباړلې وې، له دې ټولګې لرې کړې او هڅه مې کړې چې یوازې هغه نوې کیسې چې پخوا نه دي ژباړل شوي، دې ټولګې کې سره یو ځای کړم.

پښتو ژبه کې د مینې او محبت ډېرې کیسې لیکل شوي او لوستل کېږي، ښه به دا وي چې د ژوندانه د نورو برخو په هکله هم ځینې کیسې ولوستل شي. د لیلا تورې زلفې او سرې شونډې یوه شېبه خوند لري خو دا کیسې په انسان کې د بدلون لامل کېږي، انسان ته همت او حوصله ورکوي او د ژوندانه له ناخوالو سره د مقابلې توان ورکوي ځکه هغه چې له ستونزو سره مقابله نه شي کولای ځوانیمرګ کېږي.

له کومې ورځې مې چې د دغو کیسو راټولو پیل کړي ما خپله ډېرې لږې کیسې لیکلي ځکه چې فکر او ذکر مې له دغو کیسو سره بوخت و.

په اوږدو خبرو مو نه ستړي کوم، تاسو درانه د کیسو لوستو ته رابولم او له مومند خپرندویې ټولنې مننه کوم چې دا کتاب یې چاپ او خپور کړ او دا دی تاسو یې د لوستلو هوډ کړی.

ښه وخت او ښه مطالعه!

په درښت

آرش ننګیال

06 Sep 2015

کابل

# لیک لړ


۱.ازموینه
۲.اکسیجن
۳.الماس چېرې دي؟
۴.امانت
۵.بادار او بزګر
۶.بهلول
۷.بوختیا
۸.څه چې کرې هغه به ریبې
۹.پاچا او ساتونکی
۱۰.پاچا او وزیر
۱۱.له تیرې یې زده کړه
۱۲.تګي
۱۳.د ځمکې په سر جنت
۱۴.چنګیزخان او شاهین
۱۵.چی تړوله خونه ډکه شي
۱۶.خدای(ج) ته لیک
۱۷.د بهلول جومات
۱۸.د شیطان وسیلې
۱۹.د مینې معجزه
۲۰.د نور په لټه
۲۱.د نیکۍ بدله
۲۲.د لیونو پاچا
۲۳.ډالۍ


۲۳.ډالۍ


۲۴.دوه ناروغان
۲۵.ځواک
۲۶.ښکاریان
۲۷.سهوه
۲۸.شتمن بوډا
۲۹.شتمني
۳۰.شنډه ونه ځوک په کانړو نه ولي
۳۱.شهزاده ویلز
۳۲.عمر قمیت نه لري
۳۳.ازاد غلام
۳۴.غوښتنه
۳۵.فرصتونه
۳۶.له پېنسله یې زده کړه
۳۷.شل کاله ګډ ژوند
۳۸.مرسته
۳۹.ملګری
۴۰.نا امیدي مرګ دی
۴۱.ننبه
۴۲!.ته به هېڅ کله سړی نه شې
۴۳.هېڅ کله خپلې مېرمنې ته دروا غ مه وایئ
۴۴.یو ګیلاس ستونزې
۴۵.طلایي ښکرونه

## ازموینه

وایي: د یوې شتمنې او یادې کورنۍ زلمی د زده کړې لپاره د سیمې وتلي ښوونکي ته ورځي، ځوان غواړي چې له هرچا او هر ډول پوهه او تجربه لاسته راوړي.

خو استاده ورته وایي:

-ته د شتمنې کورنۍ ځوان یې، تل دې په نورو امر کړی او تل نورو راوړې او تا خوړلې، ته زما شاګردي نه شې کولای.

ځوان ډاډ ورکوي چې دی د هرې سختې زغملو ته اماده دی. له ډېر بحث وروسته استاد یې په یوه شرط ورسره مني چې د هر امر اطاعت به کوي.

لومړنۍ دنده چې ور سپاري هغه د سیمې د عبادت ځای د پاک ساتلو مسوولیت دی. ډېره موده د عبادت ځای پاکي او صفایي کوي او د استاد هر امر ته لبیک وایي.

یوه ورځ پخوانیو زده کوونکو خپل استاد ته وویل چې ځوان د اصلي زده کړو لپاره اماده دی، ازموینه کې بریالی شو خو استاد وایي چې نور وخت ته هم اړتیا لري.

یوه ورځ یې د خاورو خځلو سطل لاس کې و چې یو کس ورسره ټکر وکړ او سطل ترې چپه شو ، ځوان سخت په قهر شو:

-اخ کاش پخوا راسره مخ شوی وای، که دا عبادت ځای نه وای ما به در سره کتلي وو.

دا ډرامه استاد جوړه کړې وه، خپلو زده کوونکو ته یې وښودله چې ځوان لا هم د خپل تېر ژوند په بند کې او سېږي.

بله ورځ همدا پېښه بیا تکرار شوه او ځوان بیا هم تند غبرګون وښوده، دریم ځل عین کیسه بیا تکرار شوه، خو دا ځل ځوان هېڅ هم ونه ویل، خځلې یې ټولې کړې او په خپله مخه لاړ.

استاد خپلو زده کوونکو ته وویل:

-ځوان د زده کړې لپاره اماده دی، ماته یې راولئ!

۱۴/۰۷/۲۰۱۵

د مسعود لعلي له کتابه

# اکسیجن

د یوه ښاري مسافر شپه په کلیوا له سیمه کې راغله، د خونې کړکې نه خلاصېدې، نیمه شپه د مسافر زړه تنګ شو، پاڅېده په کړکیو یې زور وواهه خو خلاصې نه شوې. پای کې یې یوه ښېښه ماته کړه، تازه هوا یې تنفس کړه او ارام ویده شو.

سهار چې له خوبه پاڅېده ګوري چې د الماری ښېښه یې ماته کړې ده او کړکۍ رکه روغه ده. هغه یوازې د اکسیجن په فکر اکسیجن اخیسته.

کابل

۲۰۱۴-۳-۱۲

# الماس چېرې دي؟

یو بزګر خبرېږي چې په افریقا کې د الماسو معدنونه راوتي دي چې ډېر خلک یې د شتو او بې حسابه پیسو خاوندان کړل.

دی هم خپله ټوله ځمکه او جایداد پلوري او د افریقا پر لور روانېږي. پوره دولس کاله په افریقا کې منډې ترړې وهې خو یوه روپۍ ګټه هم نه کوي.

بزګر دا هرڅه نه شي زغملی، پای کې ځان دریاب کې غرقوي.

له بلې خوا هغه کس چې د دغه بزګر ځمکه اخیستې وه، یوه ورځ یې د ویالې په غاړه یوه ځلېدونکې ډبره پیدا کړه، مالومه شوه چې دغه ډبره د نړۍ نایابه الماس دی. دالماسو سوداګر د ځمکې خاوند سره یو ځای کېږي او هغه سیمه لټوي چې الماس یې پکې پیدا کړی وو.

له کیندنو وروسته مالومېږي چې د ځمکې لاندې د الماسو ستر خزانه ده. خو بزګز پرته له دې چې پښنو لاندې ځمکه وګوري تر افریقا ورسېده او د کبانو خوراک شو.

د مسعود لعلي له کتابه / مشکلات را شکلات کنید

# امانت

سارا له خپل خاوند او دوو زمانو سره ډېر خوشاله ژوند لورده، سارا یوه هوښیاره او وفاداره مېرمن وه.

د سارا خاوند د زړه د ناروغۍ له امله روغتون کې بستر شو.

سارا له خپلو دوو زمانو سره په کور کې یوازې پاتې شوه، یوه ورځ د څه کار لپاره له کوره ووته، کله چې کور ته راستنه شوه، ګوري چې د غبرګو زامنو مړي ورته پراته دي. زامن یې په یوې ترافیکې پېښه کې وژل شوي وو.

مور د زامنو غم په یوازې ځان زغمې، هغې به اندېښنه کوله چې په څه ډول خپل خاوند چې د زړه ناروغي هم لري پوه کړي چې زامن یې مړه شوي دي.

هغه ورځ هم راغله چې خاوند یې کور ته راغی، سارا ته غاړې وت او د زامنو پوښتنه یې وکړه، څو چې زړه ته یې راننژي او خپله څو ورځینۍ ستړیا لرې کړي.

خو سارا ورته وویل چې هغوی ښه دي، ته حمام او لږ څه استراحت وکړه بیا به یې وګورې.

څو چې خاوند له خوبه راوېښېده سارا د غرمې دوډۍ تیاره کړه، ښځه او خاوند ډوډۍ ته کېناستل، خاوند بیا د خپلو زامنو پوښتنه وکړ. خو سارا ورته وویل:

ـ د هغوی اندېښنه مه کوه، لومړی د یوې ستونزې په حل کې راسره مرسته وکړه، بیا به د هغوی په هکله خبرې کوو.

خاوند د مرستې ډاډ ورکړ او د ستونزې په هکله یې مالومات وغوښتل.

سارا ورته وویل:

ـ څو ورځې چې ته په کور کې نه وې، ستا یو ملګری راغی او دوه ډېر قیمتي او نایابه غمي یې موږ ته امانت راکړل. اوس راغلی چې دغه غمي بېرته واخلي خو زما زړه نه کېږي چې دا قیمتي غمي بېرته ورکړم. زه ورسره ډېره مینه لرم، ما ته خورا ارزښت لری، نه پوهېږم چې څه وکړم؟

خاوند حیران شو، مېرمنې ته یې وویل:

ـ ته خو داسې مېرمن نه وې چې د خلکو مال ته سترګې پټې کړې؟ ته خو ډېره امانت داره او ژمنه مېرمن وې؟

ـ خو ما هېڅ کله داسې قیمتي غمي نه دي لیدلي، ما ته ډېر ارزښت لري.

خاوند په قهر شو:

ـ هغه ستا شته نه دي، هغه امانت دی امانت. غمي ورته بېرته ورکوو، زه درسره مرسته کوم چې د غمیو په ورکولو سره هېڅ خواشیني نه شې، همدا اوس دا کار کوو.

سارا په ارامۍ وویل:

ـ هرڅه چې ته وواېې هماغسې کوم، که رښتیا وواېم غمي یې رانه بېرته اخیستی دي. دا قیمتي غمي زموږ زامن دي، چې الله پاک موږ ته امانت راکړي وو، ته چې روغتون کې وې بېرته یې رانه واخیستل.

خاوند د خپلې هوښیارې مېرمنې په مطلب پوی شو، یو بل ته غاړې وتل او ډېره شیبه یې د یو بل په اوږه اوښکې تویې کړې او دغه له تحمله وتی غم یې په ډېرې هوښیارۍ ومانه.

د مسعود لعلي له کتاله ( جناب عشق عزیز است فرومګزارش )

۲۰۱۴ـ۰۳ـ۰۴

کابل

# بادار او بزګر

بادار د خپل بزګر د حال پوښتنه وکړه، بزګر په ډېرې خواشینۍ وویل:

- زه الله پاک ډېر غریب پیدا کړی یم، ټول عمر مې په کړاوونو کې تېر شو، هېڅ کله مې ګیله نه ده کړې خو له دې هرڅه سره، سره وګوره ! زما د یوائېني زوی سترګې کږې دي او هرڅه ورته دوه، دوه ښکاري.

بادار یې په ځواب کې وویل:

-زما د زوی سترګې هم کږې دي، خو ته ډېر شکایت کوې.

بزګر وویل: باداره ! زما او ستا تر منځ دا فرق دی چې ستا زوی ته ټولې نیک بختۍ دوه، دوه ښکاري خو زما زوی ته بدبختۍ.

# بهلول

:یوه ورځ بهلول په لاره تېرېده، یو ښوونکی یې ولیده چې زده کوونکو ته وایي

..زه فلاني امام سره په دریوو مسایلو مخالفت لرم

.لومړی- هغه وایي چې الله تعالی نه لیدل کېږي نو څه چې نه لیدل کېږي هغه وجود نه لري

دوهم۔هغه وایي چې الله تعالی به ابلیس په جهنم کې وسېځي. حال دا چې ابلیس خپله له اوره جوړ شوی دی اور په اور نه سېځل کېږي.

دریيم۔ هغه وایي انسان ټول کارونه په خپل اختیار ترسره کوي. دا هم سمه نه ده، ځکه چې انسان له مجبوریته ځیني کارونه ترسره کوي یا غیر ارادي کارونه ترسره کوي.

کله چې بهلول دا خبرې واورېدې په قهر شو او استاده یې په وچلې باندې په کلکې لوټې وویشت، د استاد په وچلي وینې روانې شوې، استاد او زده کوونکي، بهلول د وخت خلیفه ته را وستاو ترې شکایت یې وکړ.

:خلیفه د پېښې په هکله مالومات و غوښتل، استاد ورته وویل

..زده کوونکو ته مې سبق ویلو چې بهلول په ډبرې وویشتم

:بهلول ترې وپوښتل

۔استاده ! تا درد ولیده؟

.استاد وویل: نه، درد خو نه لیدل کېږي

:بهلول یې په ځواب کې وویل

..نو کله چې درد نه لیدل کېږي، په دې مانا ده چې درد نشته

بله دا چې ته هم له خاورې جوړ یې او لوټه هم له خاورې جوړه ده، یانې چې تا باندې یې هیڅ اغېزه نه ده کړې.

دربم، تا وویل چې انسان په خپل اختیار نه دی. بیا خو زه هم اړم وم چې تا په دبره وولم. نو زه له کومه د سزا وړ یم؟

استاد چې کله د بهلول دلایل واورېدل خجالته شو او په تېټ سر پخپله مخ روان شو

20/05/2015

جلال کوټ

## بوختیا

وړه لور د خپل پلار څنګ ته ورغې، پلار په خپلو دفتري چارو داسې بوخت دی چې د سرګرولو ته هم وخت نه لري ځکه خو د لور راتګ ته هم نه متوجه کېږي.

لور پوښتنه وکړه:

ـ پلار جانه ! څه کوې؟

پلار په ځواب کې وایي:

ـ هېڅ لورې ! د سبا ورځې پلانونه جوړوم، دا د هغو مهمو کسانو نومونه دي چې سبا باید ورسره وګورم.

لور له لږې شېبې چوپتیا وروسته وایي:

ـ پلار جانه ! ایا زما نوم هم په دې لیست کې زیاتوې؟

۲۰۱۴ـ۰۵ـ۰۷

کابل

# څه چې کرې هغه به رېبې

د چین په یوه بازار کې یو بوډا سوالګر اوسېده، هرچا ته یې خپل کچکول نیولی و، له پیسو نیولې تر وریجو او غنمو پورې له هېڅ شي بېرته نه و.

یو سهار چې کله په سوال پسې ووت، ګوري چې مخامخ بادشاه له خپل لښکر سره را روان دی او خلکو باندې سوغاتونه وېشي.

سوالګر زړه کې سخت خوشاله شو، له ځانه سره یې وویل:

ـ که خیر وي نن به له بادشاه نه ارزښتمنده ډالۍ اخلم، نن به مې د عمرونو ارمان پوره شي، د پاچا د لاس ډالۍ!

سوالګر له ډېرې خوښۍ نه په نڅا شو او پاچا ته یې خپل کچکول ونیوه. پاچا د دې پر ځای

چې سوالګر ته څه ورکړي له سوالګر نه یې وغوښتل چې دی ورته څه ډالۍ ورکړي.

د پاچا له دې خبرې سره د سوالګر ټولې هیلې خاورې شوې، سوالګر په قهر شو او کچکول نه یې دوه دانې وربجې پاچاه ته ورکړې او پاچا روان شو.

سوالګر ټوله ورځ په قهر و او له ځانه سره غورېده، پاچاته یې بد، رد ویلې.

شپه شوه سوالګر خپلې جونګړې ته لاړه، د کچکول وریجې یې تشې کړې، خو کتل یې چې کچکول کې څه شی ځلیږي، دا ځلېدونکي ځیزونه، د دوو دانو وریجو په اندازه سره وو.

نو څه چې کړې هغه به ریبې.

۲۰۱۴ـ۰۳ـ۱۳

کابل

# پاچا او ساتونکی

د ژمي په یوې سړې شپې کې پاچا له ماڼۍ نه بهر شو ، د ماڼۍ مخې ته یې یو بوډا ساتونکی ولیده چې نرۍ جامې یې په تن دي. پاچا ترې وپوښتل:

۔هوا ډېره سړه نه ده؟

بوډا وویل:

۔۔پاچا صیب، هوا سړه ده، خو زه تودې جامې نه لرم، اړیم چې دا سړې شپې تحمل کړم

پاچا په مهربانۍ وویل:

۔۔زه همدا اوس ماڼۍ ته ورځم او تاته تودې جامې درلېږم

.بوډا خوشاله شو ، له پاچا نه یې مننه وکړه خو د جامو ژمنه د پاچا له یاده ووته

سبا سهار پاچا خبر شو چې بوډا مړ شوی دی او پاچا ته یې په یو کاغذ کې لیکلي دي

( ای زما پاچا ! ما په خپلو نریو جامو د ژمي ډېرې سړې شپې ورځې تېرې کړې دي خو مړ نه شوم، اما ستا د تودو جامو ژمنه لکه چې ما ووژني)

۱۱/۰۵/۲۰۱۵

# پاچا او وزیر

پاچا غوښتل چې خپل وزیر وټاکي، د سیمې څلور تنه پوه او هوښیار کسان یې را وغوښتل او ټول یې یوې خونې ته بوتلل، ورته یې وویل:

ـ څو شیبې وروسته به د خونې دروازه په تاسو پسې بنده شي خو د دې خونې قلف څه عادي قلف نه دی، دا د ریاضي په فورمول خلاصیږي، څو پورې چې د ریاضي فورمول حل نه کړئ، قلف نه خلاصیږي.

له دې خبرې وروسته پاچا له خونې ووت او ور یې بند کړ.

خونه کې څلور پوهان پاتې شول، درې تنه پاڅېدل او د ریاضي فورمول په حلولو یې پیل وکړ چې د قلف خلاصولو چل زده کړي.

یو تن د د خونې په کنج کې غلی کېناست، سترګې یې پټې کړې او په ژور فکر کې ډوب شو.

درې تنه پوهان د ریاضي سوالونو په حلولو لګیا وو چې ناست کس را پورته شو، د دروازې پر لور روان شو، ور یې ټېل وهلو، پرته له کومې ستونزې خلاص شو او د باندې ووت.
په خونه کې هغه درې کسان د ریاضي په حلولو دومره بوخت ول چې د وره خلاصېدو ته هېڅ متوجه نه شول.
څو شیبې وروسته پاچا له هغه عالم سره چې له خونې ووت بېرته خونې ته راغی او ویې ویل:
ـ کار بس کړئ، ازموینه پای ته ورسېده او ما خپل وزیر انتخاب کړ.

پوهانو په حیرانیتا پوښتنه وکړه چې هغه خو غلی ناست و او هېڅ کار یې نه کاوه، نو تا ولې هغه خپل وزیر انتخاب کړ؟

نوی وزیر وویل: زه ځکه غلی کېناستم، څو پورې فکر وکړم چې ایا ور په رښتیا هم بند شوی دی او کنه؟ بیا مې له ځانه سره فکر وکړ چې له کومه ځایه یې پیل کړم؟ او څه ډول دا ستونزه حل کړم؟ بس زه هم پاڅېدم او کله مې چې ور وکوت نو خلاص و، زه هم له خونې بهر شوم.

پاچا وویل: بالکل همداسې ده. ور قلف شوی نه و، زه دې ته په تمه وم چې په تاسو کې څوک د موضوع په هکله رانه سمه پوښتنه وکړي، خو تاسو له واره د ریاضي فورمول په حلولو پیل وکړ. دا هغه وخت و چې تاسو له لاسه ور کړ.

که ټول عمر مو زحمت ویستی وای نو دا فورمل به نه وای حل شوی. نو زما نوی وزیر پوهېږي چې په څه وخت کې څه وکړي. لومړی پوښتنه باندې ځان پوی کړئ بیا یې د حل کوښښ وکړئ.

۲۰/۵/۲۰۱۵

د مسعود لعلي له کتابه

## له تیږې یې زده کړه!

زده کوونکی په شکایت د استاد څنګ ته لاړه او د خلکو له بې ځایه انتقادونو او ملنډو یې ګیلې پیل کړې. استاد وویل:

- چې د فلاني سیند په غاړه یوه توره تیږه ده، لاړه شه، چې څه دې زړه غواړي ورته ویې وایه، زړه دې ښه تش کړه او بېرته راشه.

زده کوونکی همداسې کوي، د سیند غاړې ته ورځي او څه یې چې په خوله راځي تیږې ته یې وایي، له څه ځنډ وروسته بېرته د استاد څنګ ته ورځي.

استاد یې پوښتي:

-زړه دې تش شو؟

زده کوونکي په مسکا وویل:

-هو هو..

استاد بیا پوښتنه وکړه:

-تیږې ستا د خبرو پر وړاندې عکس العمل وښوده؟

زده کوونکی حیران شو:

ـ نه ! تیره خو خبرې نه شي کولای

استاد وویل:

ـ حوصله له تیرې زده کړه، د دې لپاره چې د دوست او دښمن په خبرو ونه زورېږې باید له تېرې یې زده کړې.

(د مسعود لعلی له کتابه/ به دنیا امده ایم تا ان را تغیر دهیم )

جلال اباد

۸/۷/۲۰۱۵

## ټکي

د یوه حاکم د هرکلي لپاره یوه ډله هنرمندان راغونښتل شوي وو، چې د هرکلي لپاره یې سندره ووایي او موسیقي وغږوي.

حاکم ځنډ وکړ او هوا هم سړه وه، د هنرمندانو په کتار کې یوه کس له ځانه سره وویل:

ـ هنرمندان ډېر دي، زه خو په دې سړه هوا کې هېڅ غږ نه شم پورته کولای، که زه سندره ووایم که یې ونه وایم څه؟ راځه دوی به سندره وایی زه به هسې خوله خوځوم.

حاکم راغی او د موسیقې استاد امر وکړ چې سندره پیل کړي.

یو مهال د ټولو هنرمندانو خولې خوځېدې خو اواز یې نه پورته کېده، ځکه هغه شیبه ټولو یو ډول فکر کړی و.

۳۰/۷/۲۰۱۵

کابل

(د مسعود لعلي له کتابه/ عمر کوتاه نیست ما کوتاهي میکنیم )

# د ځمکې په سر جنت

په تېرو زمانو کې يو استاد له خپلو زده کوونکو سره يوې ښکلې سيمې ته لاړه چې د ځمکې پر سر د جنت په نوم يې شهرت درلوده.

د ځنګله يوې څنډې کې يوه زړه جونګړه ښکارېده، زده کوونکو يو بل ته وويل چې په دې سمسوره او اباده سيمه کې دومره زړه جونګړه؟

يوه زده کوونکي د جونګړې ور وټکاوه، پلار، مور او درې زامن له کوره راووتل چې زړې جامې يې په تنه وې او د غريبۍ او بې وسۍ نښې پکې له ورايه ښکارېدې.

استاد ترې پوښتنه وکړه:

- تاسو چې له خلکو لرې په دې ځنګله کې اوسېږئ غله دانه له کومه کوئ؟ دلته خو نه فصل شته او نه ښار او بازار شته.

د کور خاوند وويل:

- موږ يوه غوا لرو، هره ورځ ډېرې شيدې کوي، شيدې په ښار کې خرڅوو او خپل د اړتيا وړ توکي پرې رانيسو. لږې شيدې چې پاتې شي، پنير او مستې ترې جوړوو او خپله يې خورو.

استاده د کور له خاوند نه مننه کوي او له زده کوونکو سره په خپله مخ ځي.

يو ځای کې استاد خپلو زده کوونکو ته وايي:

- هغه غوا د کور د خاوند ده، له کمره يې لاندې وغورځوئ!

زده کوونکي حيرانېږي، خو اړ وي چې د خپل استاد خبره ومني، پای کې همداسې کوي، غوا له کمره لاندې غورځوي او په خپله مخ ځي.

کلونه وروسته هغه ځوان چې غوا يې وژلې وه، غټ مقام ته رسېږي، يوه ورځ پرېکړه کوي چې ځنګل ته لاړ شي او د کور له خاوند نه بښنه وغواړي او د غوا قيمت هم ورکړي.

ځوان چې کله ځنګله ته رسېږي ګوري چې د زړې جونګړې پر ځای ښکلې بنګله جوړه شوې ده، شاخوا يې ګڼې ونې او ګلان ولاړ دي، د کور په انګړ کې ډول، ډول موټر کتار درول شوي دي.

ځوان ورځي او د کور ور ټکوي، کله چې د کور خاوند راځي راغلی ځوان يې پېژني چې هماغه کورنۍ ده. ځوان لا حيرانېږي او د کور له خاوند نه پوښتنه کوي:

ـ ستاسو په ژوند کې دومره ستر بدلون؟ دا څنګه امکان لري؟ تاسو څه کړي دي؟

د کور خاوند وايي:

ـ موږ يوه غوا درلوده چې د شيدو له پلورلو نه يې زموږ د کور مصارف پوره کېدل، هغه غوا له کمره ولوېده او مړه شوه. د کور د لګښت لپاره اړم شوم چې ځمکه کې فصل ورکم، د فصل پخېدل ډېر وخت غواړي، نو اړ شوم چې ځنګله کې وچ لرګي راټول کړم او خرڅ يې کړم، کله مې چې وچې ونې وهلې نو اړ وم چې پر ځای نوي نيالګي کېنوم. نيالګيو پسې ښار ته لاړم، هلته مې نوې جامې، د کور اسباب او نور څيزونه وليدل.

تر لومړي فصل پورې مو لږې ستونزې درلودې خو کله مې چې فصل ورسېده زموږ ټولې ستونزې حل شوې. بيا مې خپل کارو بار لا پراخه کړ، پمبه مې وکرله، پمپې نه مې رخت جوړ کړ. اوس مې ژوند ډېر ښه دی، مخکې مې هېڅ کله هم فکر نه و کړی چې د دې سيمې ځمکې به دومره ښه فصلونه کوي.

۲۴/۷/۲۰۱۵

(د مسعود لعلي له کتابه/ بهشت يا جهنم انتخاب به شماست )

## چنګیزخان او شاهین

یوه ورځ چنګیز خان خپل ګران شاهین په لاس کېښوې له خپلو سپاهیانو او درباریانو سره د ښکار لپاره ځنګله ته ځي.

له ډېرو منډو رامنډو وروسته هم ښکار نه شي کولی، ځکه خو تول ببېرته خپل پنغالي ته راځي.

چنګیز خان له خپلو ملګرو بېلیږي او یوازې ځنګله ته ځي چې ښکار وکړي.

تو له ورځ په ځنګله کې په ګرځېدو تېروي. چنګیز تږی کیږي، خو د اوړي ګرمیو د ځنګله اوبه وچې کړې وې، په ګرځېدو، ګرځېدو، یو ځای کې اوبه پیدا کوي چې ځاځکی، ځاکی تو ېږي.

چنګیزخان خپل شاهین په یوې تیږې کېښوي او خپل جام د ابو ځاځکو ته نیسي. له څه ځند وروسته جام ډکېږي. همدا چې جام خولې ته را پورته کوي، شاهین په یوه پړک سره د چنګیزخان د اوبو جام چپه کوی او بېرته په خپل ځای کېني. چنګیز خان ته سخته غوسه ورځي، خو شاهین دده د خوښې مرغه وي او هېڅ هم ورته نه وایی.

چنګیز خان جام پاکوي او بیا یې د اوبو ځاځکو ته نیسي، لا نیم شوی نه وي چې شاهین یو ځل بیا په جام برید کوي او چپه کوي یې.

دا ځل چنګیزخان لا قهرېږي، دا ځل جام د اوبو ځاځکو ته ږدي او خپله توره په لاس ودرېږي.

جام له اوبو ډکېږي، لا یې شونډې نه وې ور وړې چې شاهین پرې حمله کوي، خان چې همدې ته متوج وي، شاهین په توره وهي او وژني یې.

خان چې تندې وارخطا کړی وي، په یوه منډه د اوبو سرچینې ته ورځي چې ژر جام را ډک او ویې څښي.

کله چې سرچینې ته رسېږي ګوري چې د اوبو په ډنډ کې ډېر خطرناکه مار مړ پورت دی او که خان دا اوبه څکلې وای، هماغه شېبه به یې د مرګ لپاره سر ایښی وای.

خان د خپل شاهین په مرګ سخت خواشینی کېږي، مړ جسد یې غېږ کې اخلي، ماڼۍ ته ورځي او درباریانو ته امر کوي چې د شاهین مجسمه جوړه او په وزره یې دا جمله ولیکي

(د قهر پر مهال هر ډول عمل د ناکامۍ لامل کېږي)

۱/ ۲۰۱۴/۴

# چې ټوله خونه ډکه شي

له ډېرو کلونو منډو ، ترړو وروسته په سپين سر د کاروبار خاوند شو ، بوډا ستر سوداګريز مرکز جوړ کړ، چې زرګونو خلکو ته يې د کار او فعاليت زمينه برابره کړه.

له څه وخت وروسته بوډا ته انديښنه پيدا شوه چې له مرګ وروسته به يې دا کاروبار څنګه کېږي؟ ځکه چې بوډا اولاد نه درلوده.

هغه ته خپل درې وريرونه تر هرچا نژدې او منلي وو. يوه ورځ درې واړه وريرونه راغواړي، ټولو ته يوه اندازه پيسې ورکوي او ورته وايي:

- دا پيسې واخلئ، داسې څيز پرې واخلئ چې زما خونه ډکه کړي، کوښښ وکړئ چې لږې پيسې مصرف کړئ او تر مازديګره به بېرته راځئ.

وريرونه ښار ته روانېږي، هر يو په دې فکر کې وي چې څه واخلي چې تر نورو غوره وي او خونه دې هم پرې ډکه شي، هر يو په خپل کار پسې روانېږي او مازديګر د خپل تره دفتر ته ډک لاسونه ورځي.

لومړی ورور غټې، غټې بوجۍ خونې ته دننه کوي، کله چې بوجۍ خلاصوي ګوري چې (سفنج) نه ډکې دي، يوې شېبې کې خونه ډکېږي.

دوهم ورور راځي، ده سره هم غټې، غټې بوجۍ وي کله يې چې خلاصوي ګوري چې ټولې له هوايي پوکانو ډکې دي، خونه له رنګارنګو پوکانيو ډکېږي.

دريم ورور د وره په مخ کې ديواله ته ډډه لګولې وي، تره ترې پوښتنه کوي:

- بچيه! تا څه راوړي؟ ولې غلی يې؟

وراره يې په ځواب کې وايي:

- کاکا جانه! ما ته دې چې کومې پيسې راکړې وې، نيمې مې خپلې کورنۍ ته ورکړې، ځکه چې تېره شپه مو کور اور واخيست او هيڅ مو نه درلودل. لاره کې مې د ځوانانو خيريه ټولنه وليده، څه پيسې مې له هغوی سره مرسته وکړه او څو روپۍ چې راسره پاتې شوې، يوه شمعه مې راوړه.

شمعې ته اور اچوي، د شمعې تته رڼا د خونې هر ګوټ ته ځان رسوي او رڼوي يې.

بوډا خپل وراره په غېږه کې نیسي، ښکلوي یې او وایي:

ـ ته زما د شتو ګټونکی یې، تا له هغو پیسو چې ما در کړې وې ډېره ښه او پر ځای ګټه واخیسته، ته زما ځای ناستی یې، مبارک دې شه!

(د مسعود لعلي له کتابه/ جانب عشق عزیز است، فرومګذارش )

۰۵/۰۷/۲۰۱۵

هغه ته خپل درې وربېرونه تر هرڅا نژدې او منلي وو. یوه ورځ درې واړه وربېرونه راغواړي، ټولو ته یوه اندازه پیسې ورکوي او ورته وایي:

ـ دا پیسې واخلئ، داسې څیز پرې راوړئ چې زما خونه ډکه کړي، کوښښ وکړئ چې لږې پیسې مصرف کړئ او تر مازدیګره به بېرته راځئ.

وربېرونه ښار ته روانېږي، هر یو په دې فکر کې وي چې څه واخلي چې تر نورو غوره وي او خونه دې هم پرې ډکه شي، هر یو په خپل کار پسې روانېږي او مازدیګر د خپل تره دفتر ته ډک لاس ورځي.

لومړی ورور غتې، غتې بوجۍ خونې ته دننه کوي، کله چې بوجۍ خلاصوي ګوري چې (سفنج) نه ډکې دي، یوې شپې کې خونه ډکېږي.

دوهم ورور راځي، ده سره هم غتې، غتې بوجۍ وي کله یې چې خلاصوي ګوري چې ټولې له هوایي پوکانو ډکې دي، خونه له رنګارنګو پوکانیو ډکېږي.

دریم ورور د وره په مخ کې دیواله ته ډډه لګولې وي، تره ترې پوښتنه کوي:

ـ بچیه! تا څه راوړي؟ ولې غلی یې؟

وراره یې په ځواب کې وایي:

ـ کاکا جانه! ما ته دې چې کومې پیسې راکړې وې، نیمې مې خپلې کورنۍ ته ورکړې، ځکه چې تېره شپه مو کور اور واخیست او هیڅ مو هم نه درلودل. لاره کې مې د ځوانانو خیریه ټولنه ولیده،

څه پیسې مې له هغوی سره مرسته وکړه او څو روپۍ چې را سره پاتې شوې، یوه شمعه مې راوړه.
شمعې ته اور اچوي، د شمعې تته رڼا د خونې هر ګوټ ته ځان رسوي او رڼوي يې.

بوډا خپل وراره په غېږه کې نیسي، ښکلوي یې او وايي:

ـ ته زما د شتو ګټونکی یې، تا له هغو پیسو چې ما درکړې وې ډیره ښه او پر ځای ګټه واخیسته، ته زما ځای ناستی یې، مبارک دې شه!

(د مسعود لعلي له کتابه/ جانب عشق عزیز است، فرومګذارش )

۰۵/۰۷/۲۰۱۵

جلال اباد

# خدای(ج) ته لیک

یوه ورځ د پوست د اداري کارکوونکي یو لیک ترلاسه کوي چې پرې لیکلي وي( خدای(ج) ته لیک ) مامورینو ته اند ښنه پیدا کېږي، ټول په ګډه لیک پرانیزي، لیکل شوي وي.

پاکه ربه، زه یوه زړه کونډه یم، سخت ژوند لرم، یوه اوونۍ وروسته نوی کال دی، ما ورته لس ( ډالره په خورا سختۍ راټولې کړې وې چې هغه هم رانه غلو یوړې. اوس حیرانه یم چې څه وکړم؟ (پرته له تا بل څوک نه لرم چې مرسته ترې وغواړم

د پوست کارکوونکي چې د لیک تراغیز لاندې راغلي وي، خپل جیبونه لټوي، راټولې شوې پیسې ۹۶ ډالره کېږي.

دوی هم پیسې په لیک کې ور لیږي.

له نوي کال وروسته د هماغې مېرمنې بل لیک راځي چې پکې لیکل شوي وي.

پاکه خدایه ! له تانه ډېره مننه کوم چې له ماسره دې مرسته وکړه، ستاسو له برکته مې خوښ او ( خوشاله اختر تېر کړ. خو هغو پیسو کې څلور ډالره کم وو، ډاډه یم چې دا پیسې به د پوست کارکوونکو وهلې وي.

۳۰/۷/۲۰۱۵

کابل

(...د مسعود لعلي له کتابه / مثل زرافه باش )

# د بهلول جومات

وايي: بهلول په لاره تېرېده، يوه ډله خلک يې وليدل چې د جومات په جوړولو لګيا دي، پوښتنه يې وکړه:

ـ دا څه کوئ؟

خلکو ورته وويل جومات جوړوو.

بهلول بيا پوښتنه وکړه:

ـ د څه لپاره؟

خلک حيران شول چې څه ځواب ورکړي، يوه وويل:

ـ د خدای د رضا لپاره.

بهلول د خلکو د ازموينې لپاره د شپې راځي او د جومات په سر ليکي (د بهلول جومات)

سبا چې خلک خبرېږي راځي او بهلو ته ښه خيته وهل ورکوي چې ولې يې د خلکو زحمتونه د ځان په نامه کړي دي.

بهلول خوارکی وايي:

ـ خو تاسو ويل چې جومات د خدای د رضا لپاره جوړو. خلک به غلط شي، اما الله خو هرڅه نه خبر دی!

# د شیطان وسیلې

وايي: يوه ورځ شيطان پرېکړه وکړه چې نور به له خپلې دندې استعفا ورکوي، خپل ټول وسايل يې بازار ته د پلورلو لپاره يوړل.

په وسايلو کې ځان غوښتنه، کرکه، وېره، قهر، حرص، حسد، شهوت، نفرت او داسې نورې وسيلې شاملې وې.

خو په دغو وسايلو کې يوه يې ډېره زړه ښکارېده او بيه يې هم تر نورو ډېره ګرانه وه.

يوه کس ترې پوښتنه وکړه:

- دا ګرانه وسيله څه شی ده؟

شيطان ځواب ورکړ:

- دا نا اميدي يا ناهيلې ده.

اخيستونکي پوښتنه وکړه:

- نو ولې تر نورو دا ډېره ګرانه او زړه ده؟

شيطان يې په ځواب کې وويل:

- دا ځکه چې دا وسيله تر نورو ماته ډېره ګټوره وه، کله چې نورو وسايلو ګټه نه کوله نو بيا مې له دې وسيلې نه ګټه اخيسته.

کله چې به مې يو څوک نا هيلی کړ بيا نو هر کار مې چې غوښته ورباندې ترسره کاوه مې. دا وسيله مې په هر انسان امتحان کړې ده، ځکه خو داسې زړه شوې.

۲۰۱۴/۵/۱۰

کابل

# د مینې معجزه

په المان کې یوې ښځې او خاوند ډیر خوشاله ژوند درلوده، په ژوند کې یې د هیڅ شي کمی نه و، کمی یوائې د اولاد و.

یوه ورځ د غم غلطولو لپاره یوه ځنګله ته په چکر لاړل. لا یې په ځنګله کې ننداره نه وه پیل کړې چې، ښځې ناڅاپه د پړانګ یو وړوکی بچی ولیده، ښځې منډه کړه او د پړانګ بچی یې په غیږ کې ونیوه او موټر ته په منډه ورغله او له ځنګل نه وتښتېدل.

اوس د کورنۍ دوه کیسزه غړي درې شول، ښځې د پړانګ د بچي پالنه او روزنه په داسې ډول کوله لکه خپل اولاد یې چې وي.

پړانګ لکه د دغې دوه کسېزې کورنۍ مشر اولاد، د مینې او پېرزوینو په ماحول کې زلمی کېږي.

وخت تېرېده، د ښځې خاوند مړ شو، د خاوند له مرګ سره ښځې باید د پېسو د لاسته راوړلو لپاره کار کړی وای، ښځې په یو بل ښار (مجارستان) کې دنده پیدا کړه، مېرمن اړه وه چې د شپږو میاشتو لپاره له پړانګه بېله شي.

مېرمن خپل پړانګ ژوبڼ ته وسپاره، د ساتنې او پالنې پېسې یې هم ورکړې او د ژبڼ له مسوولینو نه لیک اخلي چې هر وخت یې لیدو ته راتللی شي او که هروخت وغواړي پړانګ بېرته اخیستلی شي.

مېرمن خپل نازولی او یوائیني همراز د لومړي ځل لپاره یوازې پرېږدي او په اوږد سفر روانېږي.

له شپږو میاشتو بېلتون وروسته مېرمن په ډېره بېړه ژبڼ ته ننوځي او رسا هغه قفس ته ورځي چې خپل نازولی پړانګ یې پکې اچولی و، د قفس ور خلاص وي او دننه ورځي:

ـ اوو زما ښکلیه پړانګه! زه په تاسو پسې څومره خفه شوې وم. زه له تاسره ډېره مینه لرم!

مېرمنې له پړانګ نه غبرګ لاسونه چاپېره کړي وو، پړانګ هم د ښځې په اوږه خپل سر کېښوده، چې ناڅاپه د پړانګ د ساتونکي شور او چیغې پورته شوې.

ـ او خدایه! وه مېرمنې! ستا پلانګ ستا له بېلېدو شپږ ورځې وروسته مړ شو. دا ستا پړانګ نه دي، دا یو داړونکی پړانګ دی.

خو وخت له وخته تېر شوی و، د ساتونکي چېغو او شور کومه ګټه نه کوله، ځکه چې پړانګ د مېرمنې له مينې ډکه غېږه کې خری، خری پروت و.

۱/ ۳/ ۲۰۱۴

## د نور په لټه

يو هلک يو پوه او عالم ته ورځي، ورته وايي:

کلونه کېږي چې د نور په لټه يم، فکر کوم چې نژدې شوی يم ورته، خو تاسو راته دا وواېئ چې تر دې وروسته څه وکړم چې نور ته ورسېږم؟

عالم ترې پوښتنه وکړه:

ـ څه کار کوې؟

هلک وايي:

ـ تر دې دمه مې کوم کار نه دی زده کړی، پلار او مور مې راسره مرسته کوي، فکر کوم چې دا موضوع به ډېره مهمه نه وي.

عالم وايي:

ـ سمه ده خو ته داسې وکه چې نيمه دقيقه رسا د لمر سترګې ته وګوره !

هلک د عالم اطاعت کوي او د لمر سترګې ته ګوري، نيمه دقيقه وروروسته ورته عالم وايي چې اوس نو شاوخوا منظره وګوره او ووايه چې څه شي وينې؟

هلک وايي:

ـ ماته خو هېڅ هم نه ښکاري، سترګې مې د لمر رڼا وړې دي.

عالم يې په ځواب کې وايي:

ـڅوک چې یو اځې د نور په لته وي او خپله دنده نه پېژني، له مسوولیت نه تېښته کوي هېڅ کله به نور پیدا نه کړي. څوک چې یو ازې لمر ته ګوري په سترګو به یې تیاره وي.

۲۰۱۴/۰۵/۱۳

کابل

## د نیکۍ بدله

یو سړی له خپل اس او سپي سره چېرې روان و ، یو ځای کې، ناڅاپه یو زورور اواز پورته کېږي او ټول خلک مړه کیږي. سړی بې له دې چې په ځان پوی شي، بلې دنیا ته ځي.

سړي له خپل اس او سپي سره مزل کولو چې یوې دښتې ته ورسېدل، دښته کې هوا سخته ګرمه وه، ټول تندې پسې واخیستل.

له لرې یې په یوې مرمرینې دروازې سترګې ولګېدې چې، له دروازې هاخوا ښکلې بڼ او د روانو اوبو رڼې چینې هم ښکارېدې. سړی په بیړه د وره ساتونکي څنګه ته ورځی:

ـ سلام ! ورځ مو نیکمرغه.

ـ ستړی مه شې !

ـ دا ښکلی ځای څه نومېږي؟

ـ دا جنت دی جنت.

سړی مسک شو ، په لوړ غږ یې وویل:

ـ څومره ښه ! اخر جنت ته راغلم ! اوس که خیر وي د دې رڼې چینې په اوبو به ځان ښه موړ کړم.

ساتونکی یې په ځواب کې وایي:

ـ کولای شې چې لاړ شې. هرڅومره اوبه چې څکلی شې ویې څښه.

ـ اس او سپی مې هم تږي دي.

ـ بخښنه غواړم، دې ځای ته څاروي او ځناور نه شي تللی.

د ساتونکي له دې خبرې سره مساپر خواشینی کیږي، که څه هم چې ډېر تږی وي، خو او به نه څکي او روانیږي.

له اوږد مزل وروروسته یوې کروندې ته رسیږي، کرونده سمسوره وي، د یوې ونې لاندې یو کس غځېدلی وي او پر مخ یې څادر غوړولی، مساپر پرې غږ وکړ:

ـ سلام! ورځ مو نیکمرغه.

پروت سړي د مساپر سلام ته ځواب ورکوي، مساپر ورته وو ایي:

ـ زه، اس او سپی مې ډېر تږي یو.

پروت سړی په لاس اشاره کوي:

ـ د هغو تېږو شاته یوه چینه ده، لاړ شئ چې څومره او به څکلی شئ و یې څکئ.

مساپر له خپل اس او سپي سره د چینې پر لور روانیږي، هلته او به څکي او بېرته د پروت سړي څنګ ته ورځي.

ـ ډېره زیاته مننه، موږ مو له مرګه وژغورلو.

ـ هر وخت مو چې زړه وي دلته راتللی شئ.

ـ د دې ځای نوم څه دی؟

ـ جنت.

مساپر حیرانیږي او وایي:

ـ د مرمرینې دروازې ساتونکي هم وویل چې هغه ځای جنت دی او ته وایې چې دا ځای جنت دی؟

ـ هغه ځای جنت نه هغه دوزخ دی، دوزخ.

مساپر په بېړه وویل:

ـ تاسو باید د هغوئ مخه ونیسئ. ځکه چې ستاسو له نوم نه استفاده کوي، غلط مالومات خلک بې لارې کوي.

ـنه ! حقیقت کې هغوی له مورږ سره ډېره مرسته کوي، ځکه هغه کسان چې خپل ملګري او دوستان یوازې پرېږدي همالته پاتې کېږي.

۱۴/ ۵/ ۲۰۱۴

کابل

# د لیونو پاچا

په تېرو زمانو کې یو جادوګر غوښتل یې د یوه هېواد پاچاهي ړنګه کړي.

د ښار په څاګانو کې یو ډول جادویي دارو اچوي چې ټول خلک لیونیان شي.

همداسې وشول، پرته د پاچا له کورنۍ نه چې ځانګړې څاګانې یې درلودې، د ښار ټول ولس لیوني شو.

پاچا دې پېښې ډېر خوایشنی کړ. یو شمېر فرمانونه یې صادر کړل څو د هېواد ملی امنیت، د ولس روغتیا او نورې چارې په سمه توګه سمبال کړي.

خو پولیسو او دولتي چارواکو هم د هغو څاګانو اوبه څښلې وې چې جادو شوې وې، نو امنیتي او دولتي چارواکو وویل چې پاچا لیونی شوی دی، ځکه خو په ګډو وډو سره دی. د پاچا فرمانونو ته هېڅ پام نه کوي.

کله چې ولس د پاچا له فرمانونو خبر شو، له واره یې په لاریونونو پیل وکړ او له پاچا یې غوښتنه کوله چې ژر تر ژره دې استعفا وکړي.

خو د پاچا مېرمنې له هوښیارۍ نه کار واخیسته، پاچا ته یې وویل:

ـ هرڅومره ژر چې کېږي باید د هغو څاګانو اوبه مورږ هم وڅښو، څو مورږ هم د ولس په شان شو، ګنې هرڅه به تبا شي.

پاچا همدا اسې وکړل، د پاچا ټولې کورنۍ د لیونتوب اوبه وڅښلې او له واره یې په اپلتو پیل وکړ. ولس چې ولیدل پاچا هم د دوی په شان دی نو ویې ویل:

-زموږ پاچا تر ټولو غوره او هوښیار پاچا دی، یوازې همدا د پاچاهي لیاقت لري او بس.

کابل

۲۰۱۴-۰۵-۰۸

## ډالۍ

یوه هوښیار سړي نوی او ښکلی کور اخلي، د نوي او ښکلي کور تر څنګ یو پخوانی، زوړ کور وي چې یو بوډا او شوم سړی پکې اوسېږي. هغه تل هڅه کوله چې د ښکلي کور خاوند سره شخړه وکړي، کله به یې ښیښې ور ماتولې او د کور مخې ته به ورته ډیران اچول.

یو سهار د ښکلي کور خاوند باندې راووت ګوري چې ډک سطل ډیران یې د کور مخې ته اېښی دی. د کور خاوند سطل تشوي په اوبو یې وینځي او بیا یې له تازه مېوو ډکوي. د بوډا کور ته روانېږي او ور یې ټکوي.

د وره له ټکېدو سره بوډا خوشاله کېږي چې د ښکلي کور خاوند یې په قهر کړی دی او اوس به ورسره شخړه وکړي.

همدا چې ور خلاصوي ګوري چې د ښکلي کور خاوند له ډک سطل مېوو سره ولاړ دی، له سلام وروسته یې د میوو سطل ورکړ او په مسکا یې وویل:

-چا سره چې څه ډېر وي په دوستانو یې وېشي.

(د مسعود لعلي له کتابه / (جانب عشق عزیز است فرو مګذارش )

۰۱/۰۷/۲۰۱۵

جلال اباد

# دوه ناروغان

دوه ناروغان د روغتون په یوې خونې کې بستر شول، یو ناروغ چې د کړکۍ تر څنګ پروت و، کولای یې شول چې شپه ورځ کې یو ساعت په خپل ځای کې کښېني.

د ده ځای د کړکۍ ترڅنګ و، خو بل ناروغ ته هیڅ اجازه نه وه چې له ځایه پورته شي او یا هم کښېني.

د کړکۍ د څنګ ناروغ به یو مازیګر بل مازیګر له کړکۍ نه بهر کتل او څه به یې چې لیدل بل ناروغ ته به یې ویل:

ـ وګوره ! بهر د سیند غاړه ده، ګڼې ونې او ګلان هم لري، هرڅوک سیل او چکر ته راځي، ماشومان، مېرمنې، نارینه. هلته وګوره هلته ! د ګلونو څنګ کې دوه مین ناست دي.....

د ده له خبرو سره به پروت نارواغ د خوښۍ احساس کاوه، د ژوند تېرې خاطرې به یې ذهن ته راتلې او له هرې خاطرې نه به یې خوند اخیسته. دی نور عادت شوی و، تل به د مازیګري په تمه و.

یو سهار چې کله له خوبه راپاڅېده ګوري چې د کړکۍ د څنګ ناروغ مړ شوی دی.

د خپل یو ائیني ملګري په مړینه سخت خواشینی کېږي.

څه وخت وروسته ناورغ له ډاکترانو غواړي چې د ده ځای د کړکۍ څنګ ته یوسي، خبره یې ومنل شوه او ناروغ یې د کړکۍ څنګ چیرکټ ته بوته.

ناروغ چې له ځایه نه شو پورته کېدای په ډېر زحمت او د لېچو په زور یې ځان کړکۍ ته نژدې کړ. اوږده ساه یې واخیسته لکه له ډېرو هلوځلو وروسته چې خپلې موخې ته رسېدلی وي. ناروغ په خواږه نظر له کړکۍ د باندې وکتل، خو ناڅاپه یې له خولې اه ووت او حک حیران شو. له کړکۍ بهر یوازې سپین دیوال ښکارېده او بس.

ناروغ ګومان وکړ چې شاید دیوال نوی جوړ شوی وی، له نریسې یې پوښتنه وکړه:

ـ دلته څه روان دي؟ له دې کړکۍ نه خو هېڅ هم نه ښکاري؟ ملګري به مې د ساحل او ګولونو یادونه کوله؟

نرسې یې په ځواب کې وویل:

ـ هغه ناروغ ړوند و..

کابل / ۱۳/۰۷/۲۰۱۵

# ځوال

وايي: پخوا زمانو کې يو کس له ماشومتوبه غرونو کې تېرېږي ماتولې، دا يې کار او دنده وه. په خپل کار او کسب کې ډېره ستړی او ناخوښه و.

يوه ورځ د يوه سوداګر د کور له مخې تېرېده، زړه کې يې وګرځېدل چې کاش دی هم سوداګر وايی، خوښ او خوشاله ژوند به يې درلودلای، خلکو کې به شتمن او ځواکمن وای.

د خدای کړه دي، په يوې شېبې کې کارګر نه شتمن سوداګر جوړ شو، هستي، دارايي، مزدوران د هېڅ شي کمی نه و. هغه فکر کاوه چې د ښار تر ټولو ځواکمن انسان دی.

يوه ورځ يې د ښار حاکم وليده چې د کور له مخې يې تېرېده، خلکو ورته درناوی کاوه او ګڼه ساتونکي ورپسې روان وو، له ځانه سره يې وويل:

ـ کاش زه هم حاکم وای، چې خلکو راته درناوی او عزت را کړی وای او زه تر هرچا ځواکمن او پياوړی انسان وای.

دعا يې قبوله شوه، يوه شېبه کې حاکم شو. يوه ورځ په روان تخت کې ناست و چې د لمر وړانګو وسېځه، لمر ته يې وکتل او ويې ويل:

ـ لمر تر ټولو ځواکمن دی، کاش لمر وای.

همداسې وشول کارګر نه لمر جوړ شو. يوه ورځ يې د وړانګو مخه تورو ورېځو ونيوله، له ځان سره يې وويل:

ـ ورېځو خو زما مخه ونيوه ! له مانه ورېځې هم ځواکمنې دي.

څو شيبې وروسته ترې ورېځې جوړې شوې، خو تيز باد راغی او ورېځې يې خورې ورې کړې. بيا يې فکر وکړ چې له ورېځو نه باد ځواکمن دی، کاش باد وايی.

هماسې وشول، ورېځو نه باد جوړ شو ، هرڅه يې په مخه کړل، يوه غره ته ورسېده ، ډېره هڅه يې وکړه چې غر او د غره کاڼي هم له ځانه سره يوسي خو بريالی نه شو.

بيا يې دعا وکړه چې کاش ترې غر جوړ شي څکه په غره د هچا زور هم نه رسېږي. همداسې وشول، باد نه غر جوړ شو.

يوه ورځ يې يو دروند غږ واورېده ، داسې يې احساس کړه لکه اوس چې ماتېږي. پاس يې وکتل، ګوري چې بينادم ځټک په لاس په غره ګوزارونه کوي، د غره وجود ورپېږده ، يوې شېبې کې يې له غره غټې، غټې تيږې بېلې کړې. غره حيران، حيران کتل خو وس يې نه رسېده ، د خپلو وجود ننداره يې کوله چې ټوې ټوې ترې بېلېږي.

(د مسعود لعلي له کتابه / بهشت يا جهنم، انتخاب به شماست )

کابل

۱۲/۰۷/۲۰۱۵

# ښکاریان

دوه ښکاریان د ښکار لپاره روان شول، د ښته کې له لېوانو سره مخامخ شول، ښکاریان وو برېدل او له لېوانو یې تېښته وکړه. دوی مخکې او لېوان ورپسې شول، یوه ښکاري خپل توکي چې په شا کړې یې وو ، وغورځول چې بار یې سپک شي او تېزه منډه ووهي.

دوهم ښکاري په خپل ملګري وخندل، ورته یې وویل:

- که څومره هم تېزه منډه ووهو ، له لېوانو نه شو تښتېدای، هغوی له موږ نه ډېر ګړندي دي، څو شېبو کې به مو ونیسي.

لومړي ښکاري وویل:

زه هم پوهېږم چې له لېوانو نه شم مخکې کېدای، زه غواړم له تا مخکې شم، که په دې کار کې بریالی شوم نو پوی شه چې ځان مې ژغورلی دی.

۱۸/۰۷/۲۰۱۵

کابل

د مسعود لعلي له کتابه / بهشت یا جهنم انتخاب با شماست

# سهوه

دوه ناروغان ډاکټر ته د درملنې لپاره لاړل. ډاکټر د دوی د ازمېښت پایلې دوی ته په یوه لیک کې ولېږلې.

یوه ته یې لیکلي وو چې روغ رمټ دی او هېڅ ډول روغتیایي ستونزه نه لري او بل ته یې لیکلي وو چې د زړه ناروغي یې خطرناکه ده، که څه هم ګټه نه لري خو بیا هم د څه وخت لپاره ښکلې سیمې ته په چکر لاړ شه.

روغ کس ته هغه لیک ورسېده چې پکې لیکل شوي و، د زړه ناروغي دې خطرناکه ده او د ژوند شېبې یې پای ته رسېدلي دي. ده هم سستي ونه کړه، له مخې په سفر روان شو، څو ورځې وروسته مړ شو.

ناروغ ته هغه لیک ورسېده چې هېڅ ډول ستونزه نه لري بلکه رک روغ دی. ناروغ څو ورځې وروسته روغ جوړ شو او ژوند ته یې دوام ورکړ.

د مسعود لعلي له کتابه / به دنیا امده یم تا ان را تغیر دهیم

کابل

۱۲_۳_۲۰۱۴

# شتمن بوډا

بوډا پلار خپله ټوله شتمني په خپلو درېوو زامنو يو برابر وويشله، خو هغه قيمتي الماس چې له پلرونو ورته په ميراث پاتې شوی له ځانه سره وساته.

بوډا خپلو زامنو ته وويل:

-لاړ شئ نړۍ کې وګرځئ، ښه او بد ووينئ، کله چې په ټاکلی وخت بېرته راغلئ، الماس به هغه چاته ورکول کېږي چې تر ټولو غوره کار ترسره کړي.

زامنو د پلار خبره ومنله او په اوږدو سفرونو روان شول، له مياشتو او کلونو وروسته زامنو بېرته کورته راځي.

يوه ورځ پلار درېواړه زامنه کېنوي ورته وايي:

-کيسه وکړئ ! د خپل هغه غوره عمل کيسه وکړئ چې تاسو پرې وياړئ، اوږده موده مو تېره کړه څه مو راوړي چې الماس پرې واخلئ؟

لومړی مشر زوی خپله کيسه کوي:

-يوه سوداګر خپله ټوله شتمني ماته پرېښوده، ما په پوره امانت دارئ په هغو پيسو تجارت وکړ او له ګټې سره مې بېرته سوداګر ته وسپارله.

پلار وويل:

--ستر کار دې کړی دی، غښتلې زړه غواړي خو تا يوازې خپله دنده سر ته رسولې، دا ستا دنده ده

دوهم زوی کيسه کوي:

-يوه ورځ د سيند په غاړه روان وم چې ګورم يو ماشوم سيند کې د ډوبېدو په حال کې دی نو له خطره سره، سره مې هغه له اوبو ژوندی را وويست.

پلار وويل:

--که هرڅوک وای همداسې يې کول، منم چې ښه کار دې کړی دی خو دومره هم نه چې الماس وګټې

کشر زوی خپله کیسه کوي:

-یوه ورځ مې غره کې خپل مالونه څرول چې ناڅاپه مې هغه کس ولیده چې زما د پر کلک دښمن و. هغه له لوړ کمره ځوړند شوی و، که یوه شیبه نه وای ورغلی سړی لاندې لوېده او مړه کېده خو ما ورسره مرسته وکړه، سړی مې راپورته کړ.

بوډا پلار خوشاله شو، زوی یې په تندي ښکل کړ:

-ته زما ویاړ یې! تا د بدۍ ځواب په نیکۍ ور کړ چې دا تر ټولو غوره کار دی. د الماس ګټونکی ته یې!

۲۹/۰۶/۲۰۱۵

# شتمني

وايي: یوه سپینږیري مسافر د لارې په اوږدو کې ډېر قیمتي کاڼي پیدا کوي. یو ځای کې له بل مسافر سره مخ کېږي چې وږی تږی په دښته کې پروت دی.

بوډا وږي ته ډوډۍ ور کړه، بیا یې د اوبو بتک پسې، خپلې خورجینې ته لاس کړ، د اوبو له بتک سره قیمتي کاڼی هم راووت.

وږي چې کاڼی ولیده نو په صفتونو یې پیل وکړ، بوډا وږي ته وویل:

- که ډېر دې خوښ شوي وي او ته پرې هوسا کېږې نو ته یې واخله.

له دې سره وږي سړي کاڼی واخیست او له دې وېرې چې بوډا پښېمانه نه شي د سترګو په رپ کې ورکېږي.

له څه وخت وروسته بوډا بیا له وږي سره مخ کېږي، وږی ورته هغه قیمتي کاڼی بېرته ورکوي. بوډا حېرانېږي او د علت پوښتنه ترې کوي، وږی وایي:

- کله مې چې کاڼی خپلې کورنۍ ته ښکاره کړ نو ټولو ویل چې دا خورا نایابه کاڼی دی، باید په سمه توګه یې ساتنه وکړو، هسې نه چې خلک خبر شي او غله یې راځیني یوسي. ارامه ژوند مو ورسره نارامه شو، ټوله شپه مو په ویښه تېروله، د زامنو او ورونو ترمنځ مې جګړې پیل شوې، له مور، پلار او مېرمنې سره مې هم شخړې وکړې. چې سره مې په ګریوان ته ښکاه کړ نو پوه شوم چې ټوله ستونزه کاڼي زېږولې ده. زما کور کې د مینې او محبت ځای نفرت او کرکې نیولی دی، زه دا ګاڼی نه غواړم، سوکالي په شتمني کې نه ده.

(د مسعود لعلي له کتابه /به دنیا امده ایم تا ان را تغیر دهیم )

06/07/2015

جلال اباد

# شنډه ونه خوله په کاڼو نه ولي

وايي امريکا کې يوه داسې پېښه رامنځته شوه چې خلک يې حيران کړل، فرهنګي او علمي کړيو سخت غبرګونونه وښودل.

د امريکا له ټولو ښارونونه فرهنګيانو او علمي شخصيتونو د شيکاګو پر لور هجوم راوړ، څو ځانته حقيقت معالوم کړي.

(رابرت هاچينز) چې د امريکا له يو عادي پوهنتون نه فارغ شوی و او په تېر کې ګارسون، نجار، ښوونکی او دوکاندار تير شوی و اوس د امريکا د ستر پوهنتون، يانې شيکاګون ريس مقرر شوی.

د رياست پرمهال رابرت ۳۰ کلن و.

په هرې غونډې، هرې ورځپانې او هر تلويزيون کې په رابرت نيوکې کېدې، ټولو ويل چې رابرت يو بې تجربې انسان دی او د دې سترې دندې وړتيا نه لري.

يو کس د رابرت د پلار څنګ ته ورغی، ورځپانې يې د رابرت پلار ته ور ښکاره کړې:

- دا څه حال دی؟ رابرت بېچاره ګي پسې په هرځای کې خبرې کېږي او نيوکې پرې کوي...

د رابرت پلار مسک شو، ورځپاڼې يې ترې واخيستې او په ميز يې کېښوده، په خندا يې وويل:

- شنډه ونه خوک په کاڼو نه ولي !

څه وخت وروسته ځينو، ځينو ويل چې رابرت يو نابغه دی.

د دلکارنګي له کتابه/ ائين دوست يابي.

# شهزاده ويلز

شهزاده ويلز چې وروسته اتم ادوارد هم شو ، سره د دې چې د شاهي کورنۍ غړی او د پوره قدرت خاوند و ، د زده کړې په لړ کې پرې، دا ستره نړۍ لکه د میږي د سترګې په شان تنګه شوه.

د دې پرځای چې ټولګيوال او محصلين ورسره ملګرتيا وکړي چې د سبا ورځې پاچا يا مشر به وي، برعکس هر چا کوښښ کاوه چې یوه لغته يا یوه څپېړه ورکړي.

یوه ورځ د کالج په يوې ګوښې کې ناست و او ژړل يې چې د استاد ور پام شو ، استاد يې څنګ ته ورغی او د ژړا لامل يې ترې وپوښته. شهزاده که څه هم نه غوښتل چې استاده ته شکایت وکړي، خو استاد پرې زوراور شو.

استاد چې له پېښې خبر شو ، نو سم دستي يې لويه غونډه راوغوښته، استاد له محصلينو نه پوښتنه وکړه چې ولې شهزاده سره جنګ او جګړې کوي؟

پای کې محلصينو په خپلې ګناه اعتراف وکړ او ويې ويل:

ـ موږ ځکه شهزاده ته وهل ټکول ورکول چې که سبا زموږ مشر يا پاچا شي نو موږ وو ايو چې ما خو خپل پاچا وهلی او رټلی دی.

د لکارنګي له کتابه / ائين زندګي

# عمر قمیت نه لري

وايي: يوه سړي خپل ټول عمر د پېسو په راټولولو تېره کړ، حلال او حرامو ته يې نه کتلې پيسې يې راټولولې.

سړی چې نور بوډا شوی و، ويې غوښتل چې د عمر پاتې برخه په ارامۍ او سوکالۍ کې تېره کړي، ځکه چې درې لکه دیناره یې درلودل.

سړی په همدې فکرونو کې و چې عزرایل (ع) يې خوا ته راغی چې ساه يې واخلي.

سړي وويل:

-ټول عمر مې کړاوونه تېر کړل، کار مې وکړ، اوس چې غواړم له خپلې شتمنۍ نه ګټه واخلم چې سوکاله ژوند ولرم، ته راغلی يې چې ساه مې واخلې، ايا دا زما سزا ده؟

عزرائيل (ع) د سړي خبرو ته هېڅ پام نه کوي، سړی بيا په زاريو پيل کوي:

-دا سل زره دیناره واخله او ماته یوازې درې ورځې وخت راکړه، بیا راشه او ساه مې واخله.

عزرائيل (ع) بيا هم انکار کوي.

سړی ورته بيا په زاريو وايي:

-راځه دوه سوه زره دیناره واخله او دوه ورځې وخت راکړ!

خو عزرائيل (ع) په خپله خبره ولاړ وي. سړی وايي:

-ټوله شتمني مې درکوم خو يوه ورځ وخت راکړه.

عزرائيل (ع) بيا هم انکار کوي.

پای کې سړی وايي:

-دومره وخت راکړه چې یوازې یوه کرښه ولیکم.

دا شرط ورسره مني، سړی لیکي:

-ای خلکو ! ما غوښتل چې د خپل عمر یوه ورځ په دري لیکه دیناره واخلم، خو په ما یې خرڅه نه کړه، تاسو د خپل عمر قدر وپېژنئ، ځکه چې عمر نه اخیستل کېږي.

۰۴/۰۹/۲۰۱۵

کابل/ د مسعود لعلي له کتابه

## ازاد غلام

وايي: بازار ته یې نوي غلامان راوستي وو، غلامان لاس تړلي، وېږېدلي، ځوړند سر، کتار ولاړ ول.

د غلامانو په کتار کې یو زلمی داسې مست او سرشاره و لکه پاچا یا وزیر چې د سیل لپاره ښار ته راوتی وي.

په دې ورځ شهزاد هم ښار ته راغي چې څو تنه غلامان واخلي.

د خلکو ګڼې ګوڼې ته ورغي او د غلامانو کتار له نظره تېروي چې په مست زلمي یې سترګې لګېږي، څنګ ته یې ورغي، ورته وايي:

-په داسې یو بد حالت کې ته څنګه کولای شې چې داسې خوښ او خوشاله واوسې؟ داسې یې لکه ازاد او بې نیازه انسان؟

غلام په خوښۍ ځواب ورکوي:

ـسمه ده ! ته به ما واخلې، لاس او پښو کې به مې زنځیرونه واچوې خو هېڅوک او هېڅ شی نه شي کولای چې زما فکر او زما زړه کې زنځیر واچوي. زما دننه چې څه تېرېږي هغه زما انتخاب دی زما فکر همدا اوس ازاد دی، بالکل ازاد ، ځکه خوښ او خوشاله یم.

شهزاده چې د زلمي خبرې واورېدې پوی شو چې زلمی عادی انسان نه دی، زلمی رانیسې، ازادوي يې او د ملګري او سلاکار مقام ورکوي.

(د مسعود لعلي له کتابه

جلال اباد

۲۰۱۵ـ۷ـ۷

# غوښتنه

وايي: يو مسافر په نا خبرۍ کې هغه ونه پيدا کړه چې هر څه ترې وغواړې در کوې يې.

مسافر خوشاله شو ، د ونې ګڼ سيوري ته کېناست چې دمه وکړي، مسافر وږی شوی و ، زړه کې يې وګرځېدل چې کاش لږ خواړه وای.

ناڅاپه ډول، ډول خواړه يې مخ ته کېښودل شول، مسافر وږی و ، په دې يې هېڅ فکر ونه کړ چې دا خواړه له کومه شول؟ په ډوډۍ خوړلو يې پيل وکړ، بيا يې زړه کې د اوبو غوښتنه وکړه او سم دستي اوبه او شربتونه يې مخ ته کېښودل شول.

له خوړو او ابو وروسته يې د ونې ډډ ته يې ډډه ووهله، د ونې په فکر کې شو ، له ځانه سره يې وويل:

-دا هرڅه له کومه ځايه راځي؟ دا څوک راوړي؟ دلته خو هېڅوک هم نه ښکاري؟ خدای خبر دلته څه پېښنه ده؟

د مسافر په زړه څه وګرځېدل او د وېرې احساس يې وکړ، ناڅاپه يو روح پيدا شو ، مسافر لا وويرېده، له ځانه سره يې وويل :

-اوس دې مړ نه کړي؟

همداسې کېږي، روح راځي او مسافر نه روح اخلي او روانېږي.

کابل

۱۸/۰۷/۲۰۱۵

د مسعود لعلي له کتابه

# فرصتونه

په چین کې د یوه کس په هکله ډېره پخوانۍ کیسه ده چې، کومه شپه ورته ملایک په خوب کې راغلی و. ورته یې ویلي وو چې ستا په ژوند کې به تا ته ډېر فرصتونه په لاس درشي، د شتمن کېدو فرصت، ټولنه کې به ښه موقف ته ورسېږي او ښه محبوبیت به پیدا کړي او یوه ښکلې او هوښیاره مېرمن به یې په نصیب شي.

سړي خپل ټول عمر د یادو فرصتونو په تمه تېر کړ، فکر یې کاوه چې یوه معجزه به وشي او دی به د دې هرڅه خاوند شي خو داسې ونه شول، سړی په انتظار، انتظار بوډا او مړ شو.

سړی له مرګه وروسته هماغه ملایک ویني چې په دنیا کې یې زیرې ورکړي و. بوډا ترې ګیله کوي:

-تا خو راته ویلي وو چې په دنیا کې به ډېر فرصتونه په لاس راشي، د شتو، ښه موقف او د ښکلې او مهربانې مېرمن خاوند به شم، ما خو ټول عمر انتظار وکړ، اما هېڅ هم په لاس را نه غلل...؟

ملایک یې په ځواب کې وایي:

-ما خو داسې کومه ژمنه درسره نه وه کړې؟ دا سمه ده چې ما درته ویلي وو چې تا ته به د شتمن کېدو، ښه موقف او له ښکلې مېرمنې سره د واده فرصت په لاس درشي، خو له بده مرغه چې تا له یادو فرصتونو نه هېڅ ګټه وانه خېسته. تا لیدل چې دا فرصتونه یو، یو درځینې ځي خو تا هېڅ هم ونه کړل.

سړی ګنګس شو د ملایک په خبرو یې سر نه خلاصېد، بیا یې پوښتنه وکړه:

-ستاسو موخه څه ده؟ زه ستاسو په خبرو پوی نه شوم.

ملایک یې په ځواب کې وویل:

-په یاد د دي؟ یو وخت د تجارت او سوداګرۍ په فکر کې شوې، خو هېڅ اقدام دې ونه کړ، بلکې له دې وېرې چې زیان به وکړې تجارت دې پیل نه کړ. هماغه فکر د یوه بل کس ذهن ته راغی، هغه په سوداګرۍ پیل وکړ او په ډېر لږ وخت کې د ډېرو شتو خاوند شو. هغه وسوسې او بې ځایه وېرې ته اجازه ورنه کړه چې د کار او پرمختګ مخه یې ونیسي.

بوډا ته دا هرڅه په یاد شول، ملایک له لنډې چوپتیا وروسته بیا په خبرو پیل وکړ:

-یاد به‌ي دې؟ کله چې ستاسو په سيمه کې هغه ستره زلزله وشوه چې تقريبا د ښار ډېره برخه يې ويجاړه کړه، خلکو مرستې ته اړتيا درلوده او د مرستې ناري يې وهلی، خو ته له دې وېرې چې که له کوره ووځي نو غله به دې کور لوټ او تالان کړي، د هېڅا مرستې ته دې ونه دانګل او په خپل کورکې غلی کېناستې.

بوډا ته چې دا هرڅه ياد ول، له شرمه يې پورته نه کتل، ملايک ورته دا هم وويل:

-که هغه مهال دې له اړو کسانو سره مرسته کړې وای نو تا به په ټولنه کې ښه نوم او شهرت ترلاسه کړی وای، هغوی به پر تا وياړ کاو خو دا سې دې ونه کړل.

ملايک خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-ياد دې شي؟ چې يوې ښکلې مېرمن سره مخ شوې، هغه مېرمن دې له زړه خوښېده او غوښتله دې، خو له دې وېرې چې هغه به تا سره واده ته حاضره نه شي او تا ته به منفي ځواب درکړي، د زړه خبره دې ورته ونه کړه او غلی شوې.

فرصتونه در کړل شول خو تا ترې هېڅ ګټه وانه خېسته.

۲۰۱۴-۰۵-۰۷

# له پېنسله يې زده کړه!

بابا په ليکلو بوخت و ، لمسي ترې پوښتنه وکړه:

ـبابا ! څه ليکې؟ ايا زما په هکله يې ليکې؟

بابا په خوښۍ ځواب وکړ:

ـهو ! ستا په هکله يې ليکم. ايا غواړې چې کله ستر شوې د دغه پېنسل په شان و اوسې؟

لمسي په حيرانۍ پېنسل ته وکتل، خو کوم خاص څه يې پکې ونه ليدل، ويې پوښتل:

ـدا سې پېنسلونه خو مې ډېر ليدلي دي، دې کې څه کمال دی؟

ـدا ستا په ديد پورې تړاو لري چې په کوم نظر ورګورې، خو پېسنل پينځه ځانګړنې لري، که ته هم دا ځانګړنې په ځان کې راولې نو ټول عمر به ارامه او سوکاله ژوند ولرې.

۱ـته کولای شې چې ډېر ستر کارونه ترسره کړې، خو ته بايد دا ياد وساتې چې يو ځواک او قدرت شته چې تا ته هدايت کوي، دا ځواک الله دی. د الله چې څنګه خوښه وي تا هماغې خواته هدايت کوي.

۲ـکله، نا کله له ليکلو لاس په سر شه او پېنسل تراش نه ګټه واخله، دا د دې لامل کېږي چې پېسنل يو څه وکړېږي خو پای کې يې څوکه تېره کېږي. نو پوی شه چې بايد ستونزې تحمل کړې، ځکه ستونزې او مشکلات د دې لامل کېږي چې تا نه پوی او هوښيار انسان جوړ کړي.

۳ـپېنسل تل اجازه در کوي چې ليکلی ليک يې په پينسل پاک ، پاک کړې. پوی شه چې د غلط کار سمول بد کار نه دی.

۴ـد پېنسل ظاهري شکل يا لرګي مهم نه دی، بلکې هغه تور سکاره مهم دي چې د لرګي په منځ کې دي. تل دې ته پام کوه چې ستا په دننه کې څه دي؟

۵ـ پېنسل د تل لپاره له ځانه خاپ پرېږدي، ياني د پېنسل خاپ پاتې کېږي، نو هر کار چې ترسره کوې بايد هوښيار اوسې او پوی شې چې څه کوې.

( د مسعود لعلي له کتابه )

# شل کاله ګډ ژوند

وايي: اروپا کې کوم مشهور کس د خپل واده شلمه کلیزه لمانځله، راغلي ملیمانه حیران ول چې په شل کاله ګډ ژوند کې د دوی ترمنځ ان د نظر اختلاف هم نه دی راغلی. راغلو کسانو پوښتنه وکړه:

ـ ښاغلیه! دا ډېره عجیبه ده چې په شل کاله ګډ ژوند کې ستاسو تر منځ هېڅ خفګان نه دی راغلی، تاسو څه جادو کړې ده؟

کوربه راغلو ته یوه لنډه کیسه کوي:

ـ له واده څو ورځې وروسته زه او مېرمن مې په چکر ووتو. یو ځای کې مو وغوښتل چې د اس سپرلۍ وکړو. یو اس ما واخیست او یو مې مېرمنې، زما اس رام و خو د مېرمنې اس مې نا رامه او شرو.

لا څو ګامه نه وو تللي چې اس منډه کړه او مېرمن مې ترې لاندې ولوېده. هغه له ځایه پورته شوه، نرۍ مسکا یې وکړه او اس ته یې وویل:

ـ هېڅ پروا نه کوي، دا دې لومړی ځل و.

له څو شېبو وروسته مې کتل چې مېرمن مې بیا په ځمکه پرته ده، له ځایه پورته شوه، جامې یې پاکې کړې او په جدي انداز یې وویل:

ـ دا دوهم ځل شو!

شېبه نه وه تېره چې اس بیا مست شو او مېرمن مې ترې لاندې راولوېده. هغې هم سسته ونه کړه، ټوپک یې راواخیست او اس یې په دې تندي وویشت.

له دې کار سره مې په مېرمنې چیغه کړه او په قهر مې ورته وویل:

ـ دا دې څه وکړل؟ ته لیونۍ شوې یې؟

مېرمنې مې په قهر را وکتل او ویې ویل:

ـ په یاد یې ساته، دا دې لومړی ځل شو!

(د مسعود لعلي له کتابه/ به دنیا امده ایم تا ان را تغیر دهیم )

# مرسته

دوه کسان په یوه سفر کې سره ملګري ول، د لارې په اوږدو کې د سیند غاړې ته ورسېدل، کتل یې چې یوه پېغله هځه کوي چې له سیند نه پورې ووځي، خو نه یې شي کولای، نژدې وې چې اوبه یې یوسي. یوه کس پرته له دې چې کومه خبره ورسره وکړي، جنۍ په شا کوي او له سینده یې پورې باسي.

ملګري خپل سفر ته دوام ورکوي، شاوخوا دوه ساعته وروسته هغه بل ملګری یې وایي:

ـ نا محرمې مېرمنې ته نژدې کېدل ښه کار نه دی، پردیو مېرمنو ته نژدې کېدل زموږ د احکامو خلاف عمل دی، ولې دې داسې وکړل؟

مرسته کوونکي، له یوې شېبې چوپتیا وروسته وویل:

ـما پوره دوه ساعته وړاندې جنۍ له خپلو اوږو را ښکته کړه، خو تا لا تر اوسه په خپلو اوږو کېنولې ده.

۱۳ـ۵ـ۲۰۱۴

کابل

# ملګري

درې خوارې ملګرې پرېکړه کوي چې د څو ورځو لپاره یوه ښکلي ټاپو ته د چکر لپاره لاړ شي.
ملګري په سمندر کې له توپان سره مخ کېږي او کښتۍ یې ډوبېږي خو دوی ځان یو وچ ټاپو ته رسوي چې سوځ سپېره وی.

څه وخت وروسته ځوانان یو لرګین صندق پیدا کوي، همدا چې صندق خلاصوي ناڅاپه ترې یو عجیبه موجود را وځي، له ځوانانو مننه کوي چې له زندان نه یې ازاد کړ، نوی موجود وایي:

!ـزه اماده یم چې ستاسو یوه، یوه غوښتنه پوره کړم، امر کوئ

لومړی ځوان وایي:

ـزه باید د خپل ښار شتمن ځوان شم.

دوهم ځوان هم غواړي چې خپلې کورنۍ ته لاړ شي او هلته د غټې فابریکې خاوند شي. د دواړو ځوانانو هیله پوره کېږي.

درېیم ځوان ټاپو کې یوازې پاتې کېږي، ځوان خپلو ملګرو پسې خفه کېږي. نوی موجود ورته وایي:

ـځوانه ته څه غواړې؟

ځوان وایي:

ـزه غواړم چې ملګري مې بېرته راولې، زه ورپسې خفه شوی یم.

د درېیم ځوان غوښتنه هم پوره کېږي او تللي ملګري یې بېرته راولي.

ـ۷ـ۲۴ ۲۰۱۵

کابل

(د مسعود لعلي له کتابه/ مثل زرافه باش )

# نا امیدي مرګ دی

دربوو کسانو ته ډاکترانو وویل چې د ژوند وروستۍ شپې ورځې یې دي، شاید څو ورځې ژوندي
وي.

:ناروغان روانېږي، یو ناروغ له بل نه پوښتنه کوي

ـ د عمر څو ورځې مو په دې دنیا پاتې دي، ته په دې څو ورځو کې څه کول غواړې؟

: لومړی ناروغ وايي

ـ ټول عمر مې کار او تجارت کړی دی، پیسې مې ګټلې دي، یوه ورځ مې هم سیل او تفریح نه ده
.کړې، غواړم د عمر پاتې ورځې چکر ووهم، وخورم، وڅښم او سیل وکړم

:دوهم کس وايي

ـ ما هم ټول عمر کار کړی او منډې مې وهلې دي، له خپلوانو او دوستانو لرې وم، غواړم پاتې عمر
له خپلې مور، خپل پلار، جان او دوستانو سره تېر کړم، غواړم خپله نیمه شتمني خپلو دوستانو او
.نیمه شتمني په عام المنفعه کارونو باندې مصرف کړم

:دریم کس لږه شېبه غلی شو، بیا یې وویل

ـ خو زه ستاسو په شان نا امیده نه یم، زه لا هم امید لرم او غواړم چې ډېر عمر ژوند وکړم. تر ټولو
لومړی کار چې زه یې ترسره کوم هغه دا دی چې، بل ډاکتر ته ورځم، تر ټولو غوره ډاکتر ته ورځم،
.زه غواړم ژوند وکړم، زه یقین لرم چې ډېر کلونه به ژوندی اوسم

ـ د مسعود لعلي له کتابه/ مشکلات را شکلات کنید

۰۳/۰۷/۲۰۱۵

کابل

# نښه

سپينږيري استاد خپلو دوو شاګردانو ته د غشي ويشتو زده کړه ورکوله. د سيند پورې غاړه ونه کې يو ځيز ځوړند و. يوه شاګرد لينده او غشی را واخيستل چې نښه وولي. نښه يې ونيوه او د استاد امر ته په تمه شو.

استاد وويل:

-څه شی چې وينې راته يې ووايه.

شاګرد وويل:

-اسمان، وريځې، ونې، فصلونه او نښه.

استاد امر وکړ چې لينده او غشی په ځمکه کېږده. دوهم شاګرد نښه برابره کړه، استاد ترې وپوښتل:

-څه شی وينې؟

شاګرد وويل:

-يوازې نښه..

استاد د نښې ويشتو امر وکړ، غشی رسا په نښه ولګېده.

استاد وويل::

!-که غواړې چې نښه دې په ځای ولګيږي يوازې خپل هدف ته ګوره

کابل

-۷-۱۰ ۲۰۱۵

# ته به هېڅ کله سړی نه شې!

یو بوډا له خپل یوا ځیني زوی سره په یوې کلیوالې سیمې کې اوسېده، یوه ورځ یې خپل زوی د دې لپاره ورته چې څه غلط کار یې کړی و. پلار ورته وویل:

ـ ته به هېڅ کله سړی نه شې!

زوی له کوره مرور شو او په نامالوم لوري لاړ.

کلونه تېر شول، هلک زلمی شو او د یوه ښار حاکم او مشر شو.

حاکم صیب خپل پلار پسې عسکر ولیږل چې د ده دربار ته یې راولي، د حاکم امر پر ځای شو او بوډا یې راوست.

حاکم په ملنډو وویل:

ـ ای بوډا ! یادیږي دې؟ ما ته دې ویلي وو چې ته به هېڅ کله سړی نه شې. وګوره، زه د دې ښار حاکم یم حاکم.

بوډا چې د سترګو دید یې کمزوری شوی و، حاکم ته نور هم ورنږدې شو، خپل زوی یې و پېژنده، حاکم ته یې وویل:

ـ زویه ! ښه مې یاد دي، ما درته ویلي وو چې( سړی به نه شې ) داسې مې نه و، ویلي چې حاکم به نه شې.

د مې ۲۳ ۲۰۱۵

# هېڅ کله خپلې مېرمنې ته دروغ مه وایئ

خاوند خپلې مېرمنې ته تليفون وکړ، ورته يې وويل:

-ريس او نور همکاران مې غواړي چې د څو ورځو لپاره مېلې ته ورسره لاړ شم، نو د کب نيونې وسايل او جامې مې تياري کړه، زه څو شېبو کې درځم. هو رښتيا د خوب هغه ورېښمينې جامې مې هم تياري کړه.

ښځه د خاوند په خبرو شکي شوه خو هېڅ يې ورته ونه ويل او د خاوند او امر يې پر ځای کړل او د سفر لپاره يې ورته هرڅه برابر کړل.

له يوې اوونۍ وروسته خاوند کور ته راځي، يو څه ستړی ښکاري خو ظاهر يې ښه منظم وي. مېرمن يې ورته ښه راغلاست وايي او د سفر په هکله ترې پوښتنې کوي.

-کبان مو ونيول؟

خاوند يې په ډاډ وايي:

-هو ! بلا ډېر کبان مو ونيول او وخوړل، همدې ته تللي وونو. خو تا ولې زما ورېښمينې جامې نه وې اېښې؟

مېرمنې نرۍ مسکا وکړه:

-هغه مې د کب نيونې د وسايلو کڅوره کې اېښې وې..

۱۹/۰۸/۲۰۱۵

جلال اباد

د مسعود لعلي له کتابه (افتاده باش اما نه از دماغ فيل

# یو ګیلاس ستونزې

استاد ، یو ګیلاس له اوبو ډک کړ او پورته یې کړ چې ټولو زده کوونکو ته ښکاره شي. بیا یې پوښتنه وکړه:

-ستاسو له انده دا ګیلاس به څومره وزن ولري؟

هرچا یوه، یوه خبره وکړه خو استاد وویل:

-زه هم نه پوهیږم چې د دې ګیلاس وزن به څومره وي، خو زه یوه بله پوښتنه لرم، که چیرې زه دا ګیلاس څو شیبې همداسې پاس ونیسم څه به را پېښ شي؟

زده کوونکو وویل :

-هیڅ نه.

استاد وویل:

-ډیره ښه ده، که زه یو ساعت دا ګیلاس همداسې ونیسم بیا ؟

یوه زده کوونکو وویل:

-لاس به دې په درد شي

استاد یې په ځواب کې وویل:

-رښتیا چې همداسې کیږي خو که چیرې یوه ورځ دا ګیلاس همداس ونیسم بیا به څه وشي؟

بل زده کوونکي وویل:

-لاس دې کمزوری کیږي، بې حسه کیږي، په عضلو دې زور راځي، شاید فلج شي، بیا نو ډاډه یم چې خبره به تر روغتونه ورسیږي.

استاد وویل:

ـ ډېره ښه ده، ماته څه کول پکار دي چې له دې ستونزې سره مخامخ نه شم؟

زده کوونکي وویل:

ـ. ته باید ګیلاس په ځمکه کېږدې، ځکه دې نه ستونزه جوړېږي

استاد وویل:

ـ بالکل همداسې ده. ستونزې هم همداسې دي، که څو شیبې یې ذهن کې وساتې هېڅ پروا نه کوي خو که ډېر وخت یې ذهن کې وساتئ او په هکله یې فکر وکړئ په درد به اخته شئ او که لا ډېر وخت یې په هکله فکر وکړئ ښکاره ده چې فلج به شئ او له هر ډول کاره به پاتې شئ.

(د مسعود لعلي له کتابه / مشکلات را شکلات کنید )

کابل

ـ۷ـ۰۹ ۲۰۱۵

# طلايي ښکرونه

یوه ځنګله کې یو بوډا له خپلې کورنۍ سره اوسېده، هغه غریبانه ژوند درلوده، د وچو لرګیو په ټولولو او خرڅولو یې شپه ورځ تېروله.

یوه ورځ یې ځنګله کې لرګي ټولول چې ناڅاپه یې یو غږ واورېده، لکه مرسته چې ترې غواړي. بوډا په غږ پسې ورځي ګوري چې یوه هوسۍ په تیږو کې نښتې ده او د خلاصون چیغې وهي، بوډا له ځانه سره وویل:

ـ دا زما لپاره غوره ډالۍ ده، زما د کورنۍ لپاره د ډېر وخت خوراک په لاس راځي

خو بوډا له خپلې غوښتنې تېر شو، په هوسۍ یې زړه وسوځېده او له مرګه یې وژغورله.

هوسۍ چې خپل مرګ په خپلو سترګو ولیده، په خوښۍ یې منډه کړه او په ځنګله کې ورکه شوه. بوډا په خپل کار پسې روان شو، لا څو قدمه نه و تللی چې ناڅاپه یې یو غږ واورېده.

ـ تا له ما سره مرسته وکړه، زه هم غواړم چې تا سره مرسته وکړم

بوډا حیران ولاړ و، هوسۍ وویل:

ـ دا غټ ګټ به درته سره زر کړم، له غریبۍ به خلاص شې

همدا سې وشول، غټ ګټ نه سره زر جوړ شول خو بوډا پرې خوشاله نه شو، هوسۍ وویل:

ـ سمه ده، دا پورې غر به درته سره زر کړم، یوه شېبه کې له غره نه سره زر جوړ شول

خو بوډا بیا هم خوشالېږي نه. هوسۍ ورته وایي:

ـ دومره سره زر ستر، ستر بادشاهان هم نه لري، نو ته څه غواړې؟

بوډا وایي:

ـ ستا ښکرونه!

د مسعود لعلي له کتابه (افتاده باش نه از دماغ فیل)

کابل

# د لیکوال چاپ شوي اثار

۱.ولسمشر ما وژلی.ناول

۲.ګټوره روزنه.د ماشومانو اروا پوهنه ، ژباړه

۳.شببه .لنډې کیسې

۴.ښوونیزې راډیویي خپرونې

۵.مجسمه.لنډې کیسې

۲.راشئ چې هوا وکو – ناول

۷.د ماشوم غوره روزنه.د ماشومانو او تنیکو ځوانانو اروا پوهنه

۸.خدای (ج) ته لیک.د نړئ افسانې او کیسې ، ژباړه او راټولونه